مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۱۲/۰۶

# غزل

يو ږغ دی چي په خوب که مي په وينه اورېدلی
تور تم ته مي له سپيني ورځي بولي غلی غلی
شرنگی دی د ناپايه قافلي د جرسونو
د سرو اوښکو سفر دی چا يې پای نه دی ليدلی
ماشوم وم چي بوډا کيسه په اوښکو لمبوله
بوډا سوم لا تر اوسه په سِر نه يم پوهېدلی
د عقل سوداگرو پکښي هر څه دي بايللي
خبر سوم چي يو ځرک يې لېونيو دی ميندلی
نومونه د اسمان تر ستورو ډېر وه په حساب کي
يوازي له منصور سره ليکلی وو ښاغلی
نن ځم له لېونو څخه به سوال د لاري وکم
مُلا مي په زر ځله له احواله دی پوښتلی
خپل پير مي جام په لاس پر زنگانه يې کتاب ايښی
زما فال يې د حافظ په ميخانه کي وو کتلی
ما پرېږده چي مي ستونی په سلگيو اوبومه
د هيلو تر مزاره مي اجل راته راغلی
په چا دي ورلېږلي جهاني د قلم اوښکي
چي ليک دي د جانان کوڅي ته نه دی رسېدلی

د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر څلېرويشتمه ويرجينيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ